## طابع
هغه شخص چې د مالکیت او یا د مالک د نماینده ګي په اساس د باالفعل په توګه د مطبعې مالک او د هغه د امورو متصدي وي. دری: [طابع]

## طارئ (ناڅاپه) دعوی
هغې ادعا ده چې په ناڅاپي توګه د اصلي دعوی په جریان کې رامنځ ته شي. دری: [ادعای طاری (ناګهانی)]

## طبال
هغه پلورونکي ته ویل کېږي چې په معموله توګه د بېلګو په ښکاره کولو سره پېرودونکی ځان ته جلبوي.
دری: [طبال]

## طبیعي تعهد
له هغه تعهد څخه عبارت دی چې د سرته رسولو په اړوند یې ضمانت شتوالی نلري. دری:[تعهد طبیعی]

## طبیعي ثمر
هغه حاصل دی چې په طبیعي توګه لاس ته راشي.
دری: [ثمر طبیعی]

## طبیعي عوارض
هغه عوار دي چې د شخص اراده او واک یې په رامنځته کېدو کې هېڅ اغیزه نلري. دری:[ عوارض طبیعی]

## طبیعي ګټې
هغه ګټې دي چې پرته د انسان له د خالت څخه له شي یا عین څخه لاس ته راځي. دری:[منافع طبیعی]

## طبیعی حقوق
هغه اساسات چې د قانون جوړونکي تر ارادې لوړ دي او باید د قانون جوړونې پر مهال مراعات شي.
دری:[حقوق طبیعی]

## طرح
د استازو له خوا په ناسته کې د قانوني لایحې مطرح کېدل. دری: [طرح]

## طفل
پر هغه شخص اطلاق کېږي چې د اتلس کلنی عمر ئې نه وي بشپړ کړی. دری:[طفل]

## طلاق
طلاق په اوس او یا هم په راتلونکي کې د زوج او زوجې ترمنځ د صحیحه زوجیت د اړیکې له منځه تلل دي، په هغو لفظونو چې له مخې یې د طلاق پېښه په څرګند ډول افاده شي. دری:[طلاق]

## طلیعه
هغه شخص دی چې قطاع الطریق یا راهزن ته اطلاعات راوړي او هغه ته لارښوونه کوي. دری: [طلیعه]

## طوعاً
هغه اصطلاح چې د شرعي اسنادو په لیکلو کې د یوی معاملې د شکل او محتوی د منلو او انقیاد په معنی کارول کېږي. دری: [طوعاً]